مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور آخړ ۲۰۲۳/۰۵/۳۱

# د جمهوریت د سقوط عوامل
# د جنګسالارانو ونډه

(اوومه برخه)



(جنرال عبدالرازق اڅکزی)

## په کندهار کې جنرال عبدالرازق

جنرال عبدالرازق چې د کندهار د اڅکزیو له قوم څخه ؤ، د طالبانو د لومړي امارت پر مهال له طالبانو سره اسیر شوی ؤ، طالبانو د رازق پلار او تره ووژل، نوموړی د طالبانو له بنده په تېښته بریالی شو. نوموړی یو بې سواده جنرال ؤ، هغه د طالبانو سره د سختو جګړو له امله د جنرالۍ رتبې ته رسیدلی ؤ، د طالبانو له پرځولو وروسته د کندهار د سپین بولدک په ولسوالۍ کې د سرحدي پولیسو قوماندان ؤ، هغه مهال چې په کندهار کې طالبانو پرمختګ پیل کړ او د کندهار ښار تر دروازو ورسیدل، د کندهار د ولایتي شورا مشر احمد ولي کرزي او د کندهار والي اسد الله خالد، د ښار د ژغورلو په موخه جنرال رازق کندهار ته وغوښت، نوموړي جنرال په ۲۰۰۸ز، کال کې د طالبانو پر وړاندې د افغان ځواکونو پر مټ عملیات پیل کړل او طالبان یې د ښار له شاوخوا په شا کړل.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

په ۲۰۱۱ز، کال کې د کندهار ولایت د پولیسو قوماندان، خان محمد مجاهد ووژل شو، هغه وو چې دېرش کلن جنرال رازق د هغه پر ځای د کندهار د پولیسو د قوماندان په توګه وټاکل شو. (bbc.com/persian)

جنرال رازق له کوچني والي را په دېخوا د طالبانو پر وړاندې بې رحمه او کينه کښ روزل شوی ؤ، نوموړي د طالبانو له خوا د خپلي کورنی د غړو د وژلو له امله کينه او دښمني درلوده چې له کبله يې له طالبانو سره په سختی جګړیده او طالبانو ته يې ډېری مرګ ژوبلې اړولي دي. هغه د ملا محمد عمر مجاهد له استوګنځي څخه د قوماندي مرکز جوړ کړ. جنرال رازق پر کندهار ولایت سربېره په ارزګان، زابل، هلمند او د جنوبي حوزې په هره سيمه کې د اړتيا پر مهال عمليات کول.

جنرال رازق په ۲۰۱۴ز، کال کې خپلو عسکرو ته امر وکړ چې **«د جګړې هېڅ اسير ژوندی پرې نږدي.»**

د دغه بې رحمه جنرال د کړنو له امله نوموړی د ملګرو ملتونو د جنګي مجرمينو د لېست په سر کې ؤ خو د امريکا متحده ایالاتو له خوا حمایه کيده او هغه يې په جنوب کې د طالبانو د له منځه وړلو لپاره غنيمت باله.

د هغه کړني د دې سبب شوې چې د بشر حقونو سازمانونه وپاروي، تر دې چې کله ولسمشر اشرف غني د ملګرو ملتونو د بشر حقونو په شورا کې د افغانستان د غريتوب موضوع راپورته کړه، په افغانستان کې د بشر حقونو په اړه له سختو پوښتنو سره مخ شو. د جنرال رازق نوم واخيستل شو چې په خپلو شخصي زندانونو کې مخالفين په سختی سره شکنجه او خپل سري وژني کوي.

يو بل تور چې پر جنرال رازق لګيدلی ؤ، د مخدره توکو د قاچاق رهبري کول وو خو هغه دا ډول تورونه نه منل. (bbc.com/persian)

له بلې خوا جنرال رازق له پاکستان سره سخته دښمني کوله، له پاکستانيو ځواکونو سره يې پر ډيورنډ کرښه څو ځلې جګړې کړي دي، هغه پاکستان د افغانستان تل پاتې دښمن باله، ويلې يې وو چې **(څوک دې دا تمه نه لري چې پاکستان دې افغانستان په آرامی کې پرېږدي.)**

جنرال رازق د شمالي ټلوالي له ملګرو او خواخوږو څخه ؤ، د هغه ملګري له شمالي ټلوالي، په ځانګړې توګه له عطا محمد نور او نورو سره له طالبانو سره د مقاومت دوران ته رسيږي، دا وجه ده چې جنرال رازق د شمالي ټلوالي په څېر د مرکزي حکومت پر وړاندې ځان خپلواک باله او د مرکز پر وړاندې سرکښ ؤ، هغه مهال چې ولسمشر اشرف غني وغوښتل جګړه ماران ګوښه کړي د جنرال رازق د ګوښه کولو هوډ يې هم وکړ خو جنرال رازق د شمالي ټلوالي د جنګسالارانو په شان وويل:**«د ملي وحدت حکومت انتخابي نه دی، د کندهار د خلکو له خوښې پرته بل څوک نه شي کولی ما له خپلې دندې ګوښه کړي.»** (bbc.com/persian)

د شمالي ټلوالي لنډغرو جنرال رازق ته له دې امله چې د هېواد په جنوب کې پښتانه وژني د **(اوغان کُش)** ستاينوم ورکړی ؤ، له احمد شاه مسعود سره د جنرال رزاق انځورونه يو ځای چاپ شوي وو.



(جنرال عبدالرزاق او عطا محمد نور)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په څير و لولئ

طالبانو پر هغه شیږ ځله مرګوني بریدونه وکړل چې روغ تري ووت خو په پای کې د ۱۳۹۷ل. ل، کال د تلې په ۲۶مه نېټه، د کندهار د والي د یو ساتونکي له خوا چې د طالبانو له خوا ګمارل شوی ؤ، ووژل شو او یو امریکایي جنرال (سکات میلر) هم ټپي شو.

د رازق په وژلو طالبانو ډېره خوښي څرګنده کړه د طالبانو یو تن وویل چې د پنځه سوو امریکایانو پر مرګ دومره نه خوشالیدم لکه د رازق پر وژلو چې خوشاله یم.

بل خوا د جنرال رازق د وژلو په غبرګون کې د امریکا متحده ایالاتو دفاع وزیر (جیم متیز) چې جنرال رازق یې له نږدې پېژانده د هغه د وژلو په غبرګون کې نوموړی جنرال یو وطن پرست وباله.

د افغانستان جمهوري دولت د کورنیو چارو وزارت وویل چې کله طالبانو د سپین بولدک ولسوالي ونیوله (چې د جنرال رازق قوم اڅکزي په کې مېشت دي) نو په بې رحمی سره یې د غچ اخیستنې په موخه وژنې پیل کړې او له سلو تنو ډېر ملکي کسان یې ووژل، طالبانو یادې وژنې نه منې او رد یې کړې. (چنګاښ ۱۴۰۰ل. ل)

افغان جمهوري حکومت په کندهار کې د پولیسو په اکاډمی باندې د جنرال رازق نوم کېښود خو کله چې طالبانو واک ترلاسه کړ، پر هغه اکاډمی یې د جنرال رازق د وژونکي ګلبدین نوم کېښودل شو. (ځینو خبري رسنیو د جنرال رازق د وژونکي نوم ذبیح الله ابودجانه ښودلی دی.)

نېټه:۱۴۰۲/۳/۹ل. ل

**نور بیا**

**د لیکوال آرشیف**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ